# د وفات

# شو و مور او پلار حقونه

26 March 2026

(For Islamic Brothers)

هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان



پهٔ 26 مارچ، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 6 شوال شریف، کال 1447ھ) د
پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د وفات شوو مور او پلار حقونه

پهٔ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْھُم د وفات شوو خلقو سره رحمدلي
- ـــ د مور او پلار وعده پوره کړئ
- ـــ د مور او پلار د پاره د دُعا نهٔ کولو وبال
- ـــ د قبول شوي حج ثواب

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

مَنْ اَكْثَرَ الصَّلَاةَ عَلَيَّ نَوَّرَ اللّٰهُ قَلْبَهٗ

يعنې څوک چې په ما باندې ډير ډير دُرود شريف لولي **الله** پاک به د هغهٔ زړهٔ روښانه کړي- (1)

سر سے پا تک کروڑ بار سلام
اور سراپا پہ بے شمار دُرود

اے حسنؔ خارِ غم کو دِل سے نکال
غمزدوں کی ہے غمگسار دُرود (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- (3)

---

1... بستان الواعظين لابن جوزی، ص240۔

2... ذوقِ نعت، ص124 تا 125 ملتقطاً۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1 ۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښينم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت سعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تعارُف

حضرت سَعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عظيم صحابئ رسول دے، د اَنصارو پۀ لوئي سردارانو کښې دے، حضرت عبد الله بن عبَّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهما فرمائي: کله چې به خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لښکر روانولو نو د انصارو جنډا به حضرت سعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوچتوله-[1] خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي دِيني خدمتونو ستائيل او دُعا يې اوکړه: اللّٰه پاک دې زمونږ د طرف نه ټولو انصارو خاص طور سعد بن عُبَاده ته جزائے خير ورعطا کړي- پۀ يوه موقع باندې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې دُعا اوکړه:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ صَلَوٰتِكَ وَرَحْمَتَكَ عَلٰى آلِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ

ترجمه: اے اللّٰه پاکه! د سعد بن عباده پۀ آل باندې درودونه او رحمتونه نازل کړې-[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې حضرت سعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څومره خوش قِسمته وو، مونږ ټول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت مبارک کښې د درودونو نذراني پيش کوو، خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...الاصابة فی تمييز الصحابة، جلد:3، صفحه:57-

2...ابو داود، کتاب الادب، باب کم مرة يسلم...الخ، صفحه:808، حديث:5185-

حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته پهٔ عطا کولو کښې وفرمائيل: اے **الله** پاکه! پهٔ سعد بن عُبَاده باندې دُرُود نازل کړې۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابِي نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | تولې صحابِياني هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور ياران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صديق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسين هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدين د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِيه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابُو سُفيان هُم | جَنَّتي جَنَّتي (1) |

## د سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مور بي بي کوهے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** حضرت سَعد بن عُبَاده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به د خپلې مور بي بي سره ډير محبت کولو، يو ځل داسې وشو چې حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ سفر باندې وو او د هغوئي مور بي بي وفات شوه۔

اوسنے وخت خو نهٔ وو چې کال يـې کړے وے، حضرت سعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ جاز، بس يا ريل ګاډي کښې زر واپس راغلے وے، هغه وخت به پيدل او پهٔ آسونو وغيره باندې سفر کيدلو، پهٔ يو سفر به ډيرې ډيرې مياشتې تيريدلې۔ نو هغوئي پهٔ سفر باندې وو، مور بي بي يـې وفات شوه، هغوئي ته خبر وه نهٔ رسيدلے شو۔ کله چې هغوئي د سفر نه واپس راغلو، د مور بي بي د وفات نه خبر شو نو ډير خفه شو۔

تاسو پخپله اندازه ولګوئ چې ځوي ته د مور پهٔ جنازه کښې د شرکت کولو موقع ميلاؤ

1… وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

نۀ شي نو هغه به خومره خفه وي او پۀ تكليف كښې به وي، خومره ارمانونه به پۀ زړۀ كښې پاتې كيږي- بهر حال! قدرت ته چې څۀ منظور وو، هغه وشول- بيا حضرت سَعد رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ دې غمژن حالت كښې د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت كښې حاضر شو، عرض يې اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زۀ پۀ سفر باندې ووم، مور بي بي مې وفات شوه، كه زۀ د هغې د طرف نه صدقه كووم نو آيا هغې ته به يې فائده رسيږي؟ وه يې فرمائيل: آؤ! هغې ته به فائده رسيږي-[1] پۀ بل روايت كښې دي: هغوئي پوښتنه اوكړه: فَاَيُّ الصَّدَقَةِ اَفْضَلُ؟ يعنې يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! كومه صدقه ډيره افضل ده؟ وه يې فرمائيل: اَلْمَاءُ د اوبو صدقه ډيره افضله ده-

نو حضرت سعد بن عباده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپلې مور بي بي د اِيصالِ ثواب د پاره يو كوهے وكنستو- خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هُغه كوهي نوم **بِئرِ اُمِّ سَعد** (يعنې د سعد د مور كوهے) كيښودلو-[2]

بخش دے بے حساب اے خُدا بخش دے | تجھ کو محبُوب کا واسطہ یا خُدا!
میرے ماں باپ کی، آل و اَحباب کی | مغفرت کر برائے رضا یا خُدا!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** كوم حديثِ پاک چې مونږه واوريدو، د دې نه مونږ ته ډير سبقونه ميلاؤيږي-

## (1): د څه څيز نسبت د بزرګانو طرف ته كول څنګه دي؟

خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِيصالِ ثواب د پاره د كنستے شوي كوهي نوم **بِئرِ اُمِّ سَعد** كيښودو- معلومه شوه چې د څه څيزونو نسبت د بزرګانو طرف ته

---

1...بخاری، کتاب الوصایا، باب الاشهاد فی الوقف و الصدقة، صفحه:718، حدیث:2762۔

2...ابو داود، کتاب الزکاة، باب فی فضل سقی الماء، صفحه:274، حدیث:1681۔

کول جائز دي - مثلاً ◈ دلته خلق د یولسمي شریف بندوبست کوي، په دې کښې لنګر پخیږي، دې ته **د یولسمي خوراک** یا **د یولسمي لنګر** وئیلے شي ◈ ځینې خوش قِسمته د حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او د خپلو پیرانو صاحبانو د اِیصالِ ثواب د پاره قربانۍ کوي، هغې له **د غوثِ پاک د چیلي**، **د خواجه حُضُور د غوا** وغیره نومونه ورکولے شي- دا بالکل جائز دي- د دې مطلب هم دا وي چې په نورو باندې خوراک کول، قرباني کول د **الله** پاک د رضا د پاره ده، د دې چې کوم ثواب زمونږ نصیب کیږي، هغه مونږ غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه، خواجه حُضُور رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او خپلو پیرانو صاحبانو ته اِیصالِ ثواب کوو- دا خوراکونه خوړل، د داسې قربانۍ غوښه خوړل بالکل جائز ده- **الله** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَكُلُوۡا مِمَّا ذُكِرَ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ اِنۡ كُنۡتُمۡ بِاٰيٰتِهٖ مُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۱۸﴾ (پاره:8، سورهٔ انعام:118) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو د هغې نه خورئ په څهٔ چې د الله نوم اخستے شوے دے که تاسو د هغهٔ په آیتونو ایمان لرئ- |

یعني اے ایمان والؤ! که تاسو د **الله** پاک په آیتونو باندې اِیمان لرئ نو هٔغه څیزونه خورئ په کومو باندې چې د **الله** پاک نوم اخستے شوے وي-

د دې نه پس چې **الله** پاک څهٔ وفرمائیل، هغه لږ په غور سره واورئ! فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَمَا لَكُمۡ اَلَّا تَاۡكُلُوۡا مِمَّا ذُكِرَ اسۡمُ اللّٰهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُمۡ مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ (پاره:8، سورهٔ انعام:119) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او په تاسو څهٔ شوي چې تاسو د هغې نه نهٔ خورئ په څهٔ چې د **الله** نوم اخستے شوے دے- حالانکه هغهٔ ستاسو د پاره هٔغه څیزونه په تفصیل سره بیان کړي دي کوم چې یې په تاسو حرام کړي دي- |

دلته د قرآنِ کريم اُسلوب ته وګورئ! وفرمائيلے شو: پۀ تاسو څۀ شوي دي---؟ څۀ وجه ده؟ څۀ داسې غرض دے چې پۀ کومو څيزونو باندې د **اللّٰه** پاک نوم واخستے شي، تاسو هغه نۀ خورئ- کوم چې حرام څيزونه دي، هغه بيل بيان کړے شوي دي- د هغې نه ضرور ځان ساتئ، هغه مۀ خورئ! خو کوم چې حلال څيزونه دي، پۀ هغې باندې چې د **اللّٰه** پاک نوم واخستے شي نو د دې د وجې نه هغه نۀ حراميږي، هم حلال به وي، هغه ضرور خورئ!

اوس وګورئ چې ◈ خوراک ◈ اوبۀ ◈ ميوې ◈ چيلي ◈ غوا ◈ دا ټول حلال څيزونه دي، ◈ که د يولسمې شريف ختم وي ◈ د قُل شريف ختم وي ◈ يا د اللّٰه والؤ پۀ نوم باندې قرباني اوکړے شي، پۀ هغې باندې هم د **اللّٰه** پاک نوم اخستے کيږي، د قرآنِ پاک د آيتونو تلاوت کيږي، خاص طور د څاروي د ذبح کولو پۀ وخت هم د **اللّٰه** پاک نوم اخستے کيږي، معلومه شوه چې د **اللّٰه** پاک پۀ نوم اخستو سره به دا څيزونه حرام نۀ شي بلکې پۀ دې کښې به نور برکت هم راشي، ځکه دا خوراکونه د برکت د پاره خوړل پکار دي-

## (2): آيا وفات شوو خلقو ته ثواب رسيږي؟

د حضرت سعد بن عباده رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ والا حديثِ پاک نه دويمه خبره دا معلومه شوه چې مونږ د خپلو وفات شوو خلقو د پاره د نيکۍ کارونه اوکړو، د دې ثواب چې هغوئي ته ور وبخښو نو د دې فائده هغوي ته ضرور رارسيږي- صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما مور او پلار دې ستاسو نه قربان شي--!! مونږ د خپل وفات شوو د پاره صدقه کوو، د هغوئي د طرف نه حج کوو، آيا دا هغوئي ته رسيږي؟ وه يې فرمائيل: **آؤ! دا هغوئي ته رسيږي او هغوئي پۀ (ايصالِ ثواب) باندې داسې خوشحاليږي، لکه څنګه چې تاسو (ژوندي خلق) پۀ تحفه ميلاؤيدو خوشحاليږئ۔**[1]

---

[1]… عمدۃالقاری، کتاب الوضو، جلد:2، صفحه:599، زيرِ حديث:216۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کله چې مونږ له څوک څهٔ تحفه راکړي نو مونږ څومره خوشحاليږو، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: هم داسې خوشحاله وفات شوي هٔغه وخت وي، کله چې هغوئي ته د ايصالِ ثواب تحفه پيش کولے شي- دا څومره ښه خبره ده، اوس لږ سوچ اوکړئ چې ◈ مونږ صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ته د ايصالِ ثواب نذرانې وړاندې کوو ◈ اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ته د ايصالِ ثواب کوو ◈ د حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يولسمه شريف کوو ◈ د خواجه حُضُور رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نياز تياروو او په خلقو يـې تقسيموو او د هغې ثواب هغوئي ته بخښو ◈ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې ايصالِ ثواب پيش کوو، پهٔ دې باندې به دا بزرګان څومره خوشحاليږي- او دا زمونږ ايمان او يقين دے چې د چا نه ◈ صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ◈ اهلِ بيت اطهار عَلَيهِمُ الرِّضوَان او اوليائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم خوشحاله شي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغوئي خو به مزې شي-

## د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د وفات شوو خلقو سره رحمدلي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ايصالِ ثواب د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم پهٔ معمولاتو کښې شامل وو- کله چې به څوک د دُنيا نه تللو نو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم به هغوئي ته پهٔ مختلفو طريقو ايصالِ ثواب کولو- پهٔ روايتونو کښې دي: ◈ د اَنصارو صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دا معمول وو چې کله به څوک وفات شو نو د هغوئي قبر له به تلل او هلته به يـې د قرآنِ کريم تلاوت کولو- [1] ◈ حضرت امام حسن او حُسين رَضِيَ اللهُ عَنْهما به د خپل والدِ محترم يعنې د مسلمانانو د څلورم خليفه مولیٰ علي، شيرِ خُدا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د ثواب بخښلو د پاره

---

[1]... شرح الصدور، باب فی قراءة القرآن للميت...الخ، صفحه:218۔

غلامان ازادول- [1] ◈ اِمام سیوطي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ لیکلي دي چې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم به د 7 ورځو پورې د مړي د طرف نه [پهٔ خلقو] خوراک خوړلو- [2] ◈ دغه شان به صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم پهٔ نورو ډېرو طریقو سره مړي ته فائده رسوله، مثلاً ◈ سورهٔ یٰس شریف به یې لوستلو او د هغې ثواب به یې وفات شوي ته بخښلو ◈ د بزرګانو پهٔ استعمال کړے شوو جامو کښې به یې مړي له کفن ورکولو ◈ پهٔ کفن باندې به یې کلمه شریف وغیره لیکله د پاره د دې چې مړي ته فائده ورسیږي ◈ د دفن کولو نه پس به یې مړي ته تلقین کولو (یعنې پهٔ حدیثِ پاک کښې د ښودلے شوې طریقې مطابق به یې مړي ته د سوالونو جوانونه یادول) ◈ د هغهٔ د پاره به یې د قبر پهٔ اِمتحان کښې د کامیابۍ دعاګانې کولې ◈ پهٔ قبر باندې به یې څهٔ شین ښاخ یا بل څهٔ شین څیز کیښودو (د پاره د دې چې د دې پهٔ تسبیح مړي ته فائده ورسیږي) ◈ د دفن کولو نه پس به د قبر سره ایساریدل ◈ هدیرې ته به تلل او دعاګانې به یې کولې ◈ د وفات شوي د ایصالِ ثواب د پاره به یې صدقې کولې ◈ او د هغوئي د طرف نه به یې قربانۍ هم کولې- [3]

سُبۡحٰنَ اللہ! **اللہ** پاک دې مونږ ته هم توفیق راعطا کړي، مونږ ته هم د وفات شوو خلقو سره ښهٔ سلوک کول پکار دي- **اللہ** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

وہ ظہوریؔ یار میرا، وہی غم گُسار میرا | میری قبر پر جو آکر نعتِ نبی سُنائے

[1] … مصنف ابن ابی شیبة، کتاب الجنائز، باب ما یتبع المیت بعد موته، جلد:3، صفحه:262، حدیث:12۔

[2] … الحاوی للفتاویٰ، طلوع الثریا باظهار ماکان خفیا، صفحه:591۔

[3] … سیرِ صحابه میں ایصالِ ثواب کی مختلف صورتیں، صفحه:15851 ملخصاً۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): د مور او پلار حقونه نشي پوره کيدے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د حضرت سعد رَضِیَ اللهُ عَنْهُ والا حديثِ پاک نه دريمه خبره دا معلومه شوه چې که مور او پلار دواړه يا يو د دُنيا نه لاړ شي نو بيا به هم د هغوئي سره نيکي او ښه سلوک جاري ساتلے شي-

دا خبره هميشه ياده ساتئ چې د مور او پلار حقونه ډير زيات دي- دومره زيات دي چې که مونږ غواړو نو هم د هغوئي حقونه نشو پوره کولے- **يو ځل د اعلىٰ حضرت** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **نه پوښتنه اوکړے شوه:** د مور او پلار حقونه څومره دي؟ (کيدے شي چې پوښتنه کوونکي غوښتل چې ما ته يې حقونه وشماري د پاره د دې چې زهٔ هغه پوره کړم)- سيدي اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کمال جواب ورکړو، وه يې فرمائيل: د مور او پلار حقونه دومره دي چې پوره کول يې ممکن نهٔ دي، د دې پورې چې که مور او پلار وفات شي، که ځوي د هغوئي د واپس راژوندي کولو وَس لري نو بيا دې راژوندي کړي، دا هم د هغوئي پهٔ حقونو کښې شامل دي- (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! معلومه شوه چې د مور او پلار حقونه پهٔ يوه طريقه هم پوره کيدے نشي- د دې پورې چې که مور او پلار د دُنيا نه رخصت شي، وفات شي، د هغې نه پس هم د هغوئي حقونه پهٔ مونږ باندې لازم وي-

## د وفات شوو مور او پلار حقونه

دلته عام طور د خلقو د مور او پلار سره محبت خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وي- خو يو غلط مزاج

---

[1]... فتاوىٰ رضويه، جلد:14، صفحه:370 خلاصةً-

کوم چې دلته رائج دے، کله چې مور او پلار دواړه یا په دوئي کښې یو د دُنیا نه لاړ شي نو د اولاد د طرف نه د محبتونو اظهار څۀ داسې کیږي چې د هغوئي قبرونه پخولے کیږي، پۀ قبرونو باندې د پاسه ماربل لګولے کیږي، ښکلي قبرونه یې جوړولے کیږي-

قبر پخول جائز دي که نۀ؟ دا یوه جُدا مسئله ده، د دې تفصیل د دار الافتاء اهلسنت نه پوښتل پکار دي خو مونږ له که د مور او پلار سره د محبتونو اظهار کول بلکې لازمي کول پکار دي، د دې طریقه به څۀ وي؟ هُغه کوم کوم حقونه دي کوم چې پۀ مونږ باندې د مور او پلار د وفات کیدو نه پس هم لازمي وي؟ راځئ چې پۀ دې باره کښې یو څو حدیثونه واورو:

## د وفات شوو مور او پلار حقونه

یو ځل یو انصاري صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دربارِ رسالت ته حاضر شو، عرض یې اوکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د مور پلار د وفات نه پس هم د هغوئي سره د ښه سلوک کولو څۀ طریقه شته ؟ وه یې فرمائیل: نَعَمْ اَرْبَعَةُ اَشْيَاءَ الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا وَالِاسْتِغْفَارُ لَهُمَا وَاِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِمَا وَاِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا آؤ! څلور حقونه د مور پلار د وفات نه پس هم لازم دي (1): د هغوئي جنازه کول (2): د هغوئي د پاره د بخښنې دعاګانې کول (3): د هغوئي وعدې پوره کول (مثلاً که مور او پلار د چا سره څۀ وعده کړې وي نو هغه پوره کول) 4): د هغوئي د دوستانو عزت کول-[(1)]

دا 4 حقونه دي: (1): جنازه یې کول- هسې ښه خو دا ده چې ځوي پخپله د خپل مور او پلار جنازه اوکړي خو افسوس چې نن سبا حالات ډیر عجیبه دي، مور او پلار چې پۀ

---

1...سنن کبرٰی للبیهقی، جماع الابواب من اولی بالصلاۃ علی المیت، جلد:4، صفحه:185، حدیث:6893۔

خپل محنت مزدوری کوم بچي پاللي وي، هغوئي د دې لائق هم نۀ وي چې جنازه يـې اوکړے شي، کاش چې داسې شي، هر يو ځوي دومره عِلمِ دِين خو زده کړي چې د خپل مور او پلار اخري حقونه خو ادا کړے شي۔

## د مور او پلار وعده پوره کړئ!

(2): مور او پلار که د چا سره څۀ وعده کړې وي نو اولاد له پکار دي چې هُغه وعدې پوره کړي۔ پۀ حديث شريف کښې دي: څوک چې د خپل مور پلار نه پس ◈ د هغوئي قَسم رښتيا کړي ◈ د هغوئي قرض ادا کړي ◈ او د چا مور پلار ته پۀ بد وئيلو هغوئي ته بد وه نۀ وائي، هغه به د مور پلار سره نيکي کولو والا ليکلے شي، اګر که د هغوئي پۀ ژوندانۀ نافرمانه ولې نۀ وي۔

او څوک چې ◈ د هغوئي قَسم پوره نۀ کړي ◈ د هغوئي قرض ور نکړي ◈ د نورو مور او پلار ته پۀ بد وئيلو هغوئي ته بد ووائي، هغه به نافرمانه ليکلے شي، اګر که د هغوئي پۀ ژوندانۀ د ښه سلوک والا ولې نۀ وي۔[1]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وګورئ چې څومره د سبق نه ډک روايت دے، څوک چې ◈ د مور او پلار قَسمونه نۀ پوره کوي ◈ د هغوئي قرض نۀ پوره کوي او داسې کار کوي چې خلق د هغۀ مور او پلار ته بد و وائي نو داسې ګس که د مور او پلار فرمانبرداره ولې نۀ وو، اوس به نافرمانه شي۔

## آيا دښمني به يـې هم جاري ساتي؟

دلته يوه خبره عرض کړم، نن سبا د عِلمِ دِين کافي کمے دے، بعضې وخت پۀ خپل مينځ

---

1...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:232، حديث:5819۔

کښې د دُنیا جګړې ډېرې زیاتې شي، د دې پورې چې کله نا کله خلق د خپلو خوئیندو وروڼو سره غم ښادي هم ختمه کړي، بیا دا لړۍ پیړۍ په پیړۍ روانه وي- دا ډېره غلطه بلکې په بعضې حالاتو کښې د ګناهونو نه ډکه معامله جوړه شي- خُدائے دې نۀ کړي که چرې د مور او پلار څۀ داسې رویه پاتې شوې وي، مثلاً مور او پلار د خپلو خوئیندو وروڼو نه خفه وو، د مور جانې د خپلو خوئیندو وروڼو سره نۀ لګیدله نو اولاد له پکار دي چې دا جګړه نۀ اوږدوي بلکې د خپلو دغه خپلوانو سره زر تر زره روغه اوکړي او مور او پلار ته په قبر کښې سکون ورسوي- **اللّٰه** پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَالصُّلۡحُ خَیۡرٌ ؕ

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او صُلح بهتره ده-

(پاره:5، سورۀ نساء:128)

یاد ساتئ چې د سَکه خوئیندو وروڼو سره مړے ژوندے پریښودل، تعلق پریښودل دي او تعلق پریښودل حرام دي- الله پاک دې مونږ د داسې جنګ جګړو نه محفوظ کړي-

## د پلار د دوست سره ښه سلوک

(3): د مور او پلار د دوستانو عزت کول، دا هم د وفات شوو مور او پلار په حقونو کښې شامل دي- حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما صحابئ رسول دے، یو ځل هغوئي په یو ځائے تیریدلو، د هغوئي د یو کلي وال سره ملاقات وشو، څنګه چې هغوئي هغه ولیدو نو د هغۀ سره یې ډېر ښه سلوک اوکړو، په کومه سورلۍ چې هغوئي ناست وو، هغه یې هم هغۀ له ورکړه، خپله عمامه شریف یې کوزه کړه او هغه یې هم هغۀ له ورکړه- د هغوئي سره چې کوم خلق وو، هغوئي عرض اوکړو: عالي جاه! هغوئي له یو درهم ورکول هم کافي وو- وه یې فرمائیل: (دا ګس زما د والد حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دوست وو او) رسولِ ذِیشان،

مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي:

اِحْفِظْ وُدَّ اَبِيْكَ لَا تَقْطَعْهُ فَيُطْفِئُ اللهُ نُوْرَكَ

ترجمه: د خپل والِد د محبت حفاظت کوئ!

دا مۀ ماتوئ ګني **الله** پاک به ستاسو نُور مړ کړي-[1]

سُبْحٰنَ الله! مونږ له هم پکار دي چې که والد صاحب چرته د دُنيا نه لاړ شي نو د هغوئي دوستان ملګري د خپل والِد پۀ ځائے باندې وګڼو او د هغوئي عزت اوکړو-

## د مور او پلار د پاره د بخښنې دُعا کول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! (4): خلورم خيز کوم چې بيان شو هغه دے د مور او پلار د پاره د بخښنې دُعا کول- پۀ حديثِ پاک کښې اِرشاد شول:

اِسْتِغْفَارُ الْوَلَدِ لِاَبِيْهِ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ مِنَ الْبِرِّ

ترجمه: د ځوي د خپل والِد د پاره د بخښنې دُعا کول د هغۀ د مرګ نه پس ښه سلوک دے-

د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې د وفات شوو مور او پلار پۀ حقونو کښې دي چې اِنسان د خپل مور او پلار د پاره د بخښنې دُعا کوي-

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يو سُنَّت

مونږ پۀ نـمونځ کښې دُعا کوو:

---

1...معجم اوسط، جلد:6، صفحه:238، حديث:8633۔

رَبَّنَا اغْفِرْ لِیْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِلْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ یَقُوْمُ الْحِسَابُ۠ ﴿۴۱﴾

(پاره:13، سورۀ ابراهیم:41)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! ما او زما مور او پلار او ټول مسلمانان اوبخښې په كومه ورځ به چې حساب قائميږي-

دا د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام دُعا ده، هغوئي د خپل مور او پلار مباركو د پاره د بخښنې دُعا كړې وه، معلومه شوه چې د وفات شوو مور او پلار د پاره د بخښنې دُعا كول د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سُنَّت دي-

## د مور او پلار د پاره د دُعا نهٔ كولو وبال

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن سبا چې حالات ځنګه دي، مونږ خپل خپلوان ډير زر هيروو- بچي په خپل مور او پلار باندې د خاورو اچولو نه يو څو ورځې پس د هديرې لا ره هيره كړي- ياد ساتئ چې د مور او پلار د پاره دُعا نهٔ كول ډيره د نقصان خبره ده- په حديثِ پاک كښې دي: كله چې اِنسان د خپل مور او پلار د پاره دُعا پريږدي، د هغهٔ رزق پريكړے كيږي- (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! څومره د سبق نه ډک حديثِ پاک دے- ډير ځل داسې كيږي، د مور او پلار د دُنيا نه د تللو نه پس د اولاد معاشي حالت خرابيدل شروع شي، كيدے شي چې په دې وجه د ميراث جګړې هم زر شروع كيږي- غور كول پكار دي چې هسې نهٔ داسې وي چې د مور او پلار د پاره د دُعا پريښودو په وجه رزق پريكړے شوے وي-

د چا مور او پلار چې د دُنيا نه لا ړ شي، هغوئي له خو خپل مستقل عادت جوړول پكار دي چې د هر نـمونځ نه پس بلكې چې كله هم د دُعا د پاره لاسونه پورته كوي، د خپل مور

---

1... جمع الجوامع، جلد:1، صفحه:292، حديث:2138-

او پلار د پاره دُعاګانې لازمي کوي۔

## د مور او پلار د طرف نه صدقه کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د وفات شوو مور او پلار په حقونو کښې يو حق دا هم دے چې اولاد د هغوئي د پاره د ايصالِ ثواب سلسله جاري وساتي۔ دلته عام طور د وفات شوو مور او پلار د پاره ◈ د قُل شريف ختم [يعني د مړي دريمه] کولے شي ◈ لسمه کولے شي ◈ بيا څلويښتمه کولے شي ◈ بيا د دې نه پس کال کولے شي۔ دا کارونه هم ډير ښه دي، دا هم مونږ له کول پکار دي خو د دې مطلب هيڅکله دا نۀ دے چې مور او پلار د دُنيا نه لاړ شي نو بيا يې مونږه کال په کال يادوو۔ په حديثِ پاک کښې دي، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې په تاسو کښې څوک څۀ نفل خيرات کوي نو پکار دي چې هغه د خپل مور او پلار د طرف نه کوي چې د دې ثواب به هغوئي ته ميلاؤيږي او د کوونکي په ثواب کښې به هيڅ کمے نۀ راځي۔(1)

## مور او پلار ته اِيصالِ ثواب کوئ!

په يو حديثِ پاک کښې دي: يو ځل يو صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حاضر شو، عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما به د خپل مور پلار سره د هغوئي په ژوندانۀ ښه سلوک کولو، اوس هغوئي وفات شوي دي، اوس د هغوئي سره د ښه سلوک څۀ طريقه ده؟ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل:

اِنَّ مِنَ الْبِرِّ بَعْدَ الْمَوْتِ اَنْ تُصَلِّيَ لَهُمَا مَعَ صَلَاتِكَ وَ تَصُوْمَ لَهُمَا مَعَ صِيَامِكَ

ترجمه: بے شکه د مرګ نه پس د مور پلار سره ښه سلوک دا دے چې تۀ د خپل نمونځ سره

---

1...معجم اوسط، جلد:5، صفحه:394، حديث:7726۔

د هغوئي د پاره هم نـمونځ کوې، د خپلې روژې سره د هغوئي د پاره هم روژې نيسې![1]

د دې حديثِ پاک دوه معنې کيدے شي: (1): کله چې هم تاسو نـمونځ کوئ! روژه نيسئ نو د دې ثواب خپل او مور پلار ته رسوئ! (2): دويمه معنیٰ دا کيدے شي چې د هغوئي له طرفه د نمونځونو او روژو فِديه ورکړئ چې دا هُم د هغوئي د وفات نه پس د هغوئي سره د ښيګړې يو شکل دے۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې يواځې دريمه، لسمه، څلويښتي وغيره نهٔ بلکې د مور او پلار پهٔ حقونو کښې دي چې اولاد پهٔ خپله هره يوه نيکئ کښې هغوئي ټول شامل کړي، چې څهٔ نيکې هم کوئ نو د هغې ثواب مور او پلار ته بخښئ او پهٔ نفلي نيکو کولو سره هغوئي ته ثواب رسوئ۔

## د مور او پلار د طرف نه حج کوئ!

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مور پلار د طرف نه حج اوکړي، يا د هغوئي قرض ورکړي، الله پاک به د قيامت پهٔ ورځ هغه د نيکانو خلکو سره پاڅوي۔[2]

پهٔ يو روايت کښې فرمائي: اِنسان چې کله د خپل مور پلار د طرف نه حج کوي، هغه حج د هغهٔ او د هغهٔ د مور پلار د طرف نه قبلولے شي او د مور پلار رُوحونه د هغهٔ نه پهٔ اسمان کښې خوشحاليږي او دا ګس د الله پاک پهٔ نزد د مور پلار سره د ښه سلوک والا

1...عمدة القاری، كتاب الوضوء، جلد:2، صفحه:599598، زيرِ حديث:216۔

2...دار قطنی، كتاب الحج، باب المواقيت، جلد:1، صفحه:204، حديث:2585۔

ليکلے کيږي-[1]

يو بل ډير ايمان تازه کوونکے حديثِ پاک واورئ! محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مور پلار د طرف نه حج اوکړي، د هغوئي د طرف نه به حج ادا شي او هغهٔ ته به د 10 حجونو زيات ثواب ميلاؤيږي-[2]

سُبْحٰنَ الله! څومره زبردست فضيلت دے- اِنسان چې د مور او پلار د طرف نه حج ادا کړي، د هغې ثواب به هغوئي ته هم ميلاؤيږي او پخپله به د هغهٔ دا حج صرف يو حج نهٔ پاتې کيږي بلکې د 10 حجونو برابر به شي- دلته يوه مسئله پهٔ ذِهن کښې ساتئ چې حج فرض وي نو هم د خپل طرف نه به کول وي، آؤ! د فرض حج ثواب مور او پلار ته بخښلے کيدے شي- د دې نه علاوه که د نفلي حج سعادت ميلاؤ شي نو هغه د خپل ځان پهٔ ځائے د خپل مور او پلار د طرف نهٔ کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دې حج ثواب به مور او پلار ته هم ميلاؤيږي او ورسره ورسره به ستاسو هم د 10 حجونو ثواب نصيب شي- که مور يا پلار په داسې حال کښې وفات شوي وو چې په هغوئي باندې حج فرض شوے وو او د هغې باوُجود هغوئي نه وو کړے نو اولاد د هغوئي له طرفه **حجِ بدل** کولے شي- د حجِ بدل تفصيلي احکامو معلومولو د پاره د اميرِ اهلسنت مولانا محمد الياس عطارقادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د کتاب "**رفيق الحرمين**" صفحه 208 نه تر 214 پورې مطالعه وکړئ-

## د مور او پلار قبر له تلل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د وفات شوو مور او پلار پهٔ حقونو کښې د ټولو نه اهم حق

---

1... دار قطني، کتاب الحج، باب المواقيت، جلد:1، صفحه:204، حديث:2584-

2... دار قطني، کتاب الحج، باب المواقيت، جلد:1، صفحه:204، حديث:2587-

دا هم دے چې ځوي د مور او پلار قبر له ځي- خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د خپل مور او پلار دواړو يا يو قبر ته د جُمعې په ورځ د زيارت د پاره حاضر شو الله پاک به د هغهٔ ګناهونه اوبخښي او د مور پلار سره به يــې ښه سلوک کوونکــے وليکي-(1)

پهٔ يو حديثِ پاک کښې فرمائي: کوم ګس چې د جُمعې پهٔ ورځ د خپل مور پلار يا پهٔ دوئي کښې د يو د قبر زيارت اوکړي او د هغوئي پهٔ خوا کښې سورهٔ يٰسٓ ولولي بخښلے کيږي به-(2)

## د قبول شوي حج ثواب

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو به دا يو حديث شريف ډير ځل اوريدلے وي چې د مور او پلار مخ ته پهٔ محبت سره کتل د قبول شوي حج ثواب دے-(3) د چا مور او پلار چې د دُنيا نه تشريف يوسي، کيدے شي چې د هغوئي د ټولو نه لوئي نقصان هم دغه وي چې د هغوئي نه د قبول شوي حج موقع لاړه شي- خو قربان شم! خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير سخي دے، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک هم محرومه نهٔ دے پريښودے، د چا مور او پلار چې د دُنيا نه لاړ شي، د هغوئي د پاره هم د قبول شوي حج د ثواب مونډلو موقع شته، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د ثواب پهٔ نيت د مور او پلار د قبر زيارت کوونکــي ته به د قبول شوي حج ثواب ميلاويږي-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې مور او پلار د دُنيا نه لاړ شي، د قبول شوي حج د ثواب ګڼلو موقع اوس هم موجوده ده، پکـار ده چې روزانه هديرې ته حاضري اوکړئ! روزانه د مور او

---

1... معجم صغير، صفحه:659، حديث:955-

2... الکامل لابن عدی، رقم:1321، عمرو بن زیاد...الخ، جلد:6، صفحه:106-

3... شعب الایمان، باب فی بر الوالدین، جلد:6، صفحه:186، حديث:7856-

پلار د زيارت د پاره ځئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! څو ځل چې ځې نو هم هغه همره به د قبول شوي حج ثواب نصيب كيږي۔

اوس دلته يوه بله مسئله ده، مور او پلار چې ژوندي وي، ځوي د هغوئي په خِدمت كښې حاضر وي، د هغوئي د مخ زيارت كوي، هغه ته د قبول شوي حج ثواب خو هم ميلاؤيږي، ورسره ورسره مور او پلار ته د كتلو سره سكون هم ميلاؤيږي، سترګے والے خو يـې هم ختميږي، د مور او پلار سره په خبرو كولو، د هغوئي د زړۀ د حال په اوريدو، د خپل زړۀ د حال بيانولو سره غم هم كميږي، بيا د قبر په زيارت كولو د قبول شوي حج ثواب خو اګر چې ميلاؤ شي خو دا كومې چې فائدې بيان شوې، زړۀ ته سكون ميلاؤيدل، غم كميدل، دا هر څۀ خو به بيا نۀ وي، قبر ته چې لاړشي نو هلته به خاوره په نظر راځي، د موربي بي، د بابا جان پرقيدونكے مخ، مُسكے مخ خو به په نظر نۀ راځي۔

د قبر په زيارت كولو كښې دا غم هم شامل دے، نو خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رحمتونو اِظهار اوكړو، وه يـې فرمائيل: څوک چې په كثرت سره د مور او پلار د قبر زيارت اوكړي (هغۀ ته به د قبول شوي حج ثواب خو هُم ميلاؤيږي، ورسره ورسره به يـې يو بل اِنعام هم نصيب كيږي چې) كله چې دا نيک ځوي خپل قبر ته كوز شي فرښتے به د هغۀ د قبر زيارت له راځي۔(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې څومره ښكلي فضيلتونه دي خو افسوس چې اولاد د دې فضيلتونو نه خبر نۀ دے، نن د والد صاحب د دفن كولو نه پس خو د يو څو ورځو پورې غم خو تازه وي، روزانه د مور او پلار قبر ته حاضري كيږي خو زر

1 ... نوادر الاصول، الاصل الخامس عشر...الخ، جلد:1، صفحه:72۔

خلق د دُنیا په غمونو کښې راګیر شي، بیا وړومبے وړومبے په میاشتو میاشتو، بیا په ورو ورو کلونه تیریږي، مور او پلار ورته هډو یادیږي نۀ-

افسوس! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! غور اوکړئ چې زمونږ ځغه مور او پلار--!! مونږ که به چرې د شپې 10 منټه ناوخته کړو نو مور او پلار به پریشانه کیدل، پرله پسې به یې فون راتللو، مور به ناقلاره وه چې آه! زما ځوي لا د اوسه پورې کور ته واپس نۀ دے راغلے، په زړګونو قِسمه وسوسې به په یو منټ کښې د هغوئي زړۀ له راتللې- بیا به چې مونږ کله کور ته راورسیدو، مور به سینې ته راجُخت کړو او په تندي باندې به یې ښکل کړو-آه! نن چې ځغه مور او پلار په قبرونو کښې دي، بیا اولاد ته په هفتو هفتو، په میاشتو میاشتو بلکې په کلونو هغوئي نۀ یادیږي، د هغوئي قبر له تلل یې نۀ نصیب کیږي- کاش چې مونږ د هوش نه کار واخلو، کاش چې مونږ د مور او پلار قدر وپیژنو- تاسو وګورئ چې څومره ښکلے فضیلت بیان شو: څوک چې د مور او پلار قبر له لاړ شي، **اللّٰه** پاک به هغۀ ته د قبول شوي حج ثواب ورعطا کړي او ورسره ورسره چې کله دا اِنسان پخپله قبر ته کوز شي، د **اللّٰه** پاک فرښتے به د هغۀ د قبر د زیارت کولو د پاره راځي-

## د ګناهونو نه بچ اوسئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د وفات شوو مور او پلار نور هم ډیر حقونه دي، په اخره کښې یو د سبق نه ډک حدیثِ پاک واورئ! رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: په هر ګل او زیارت د **اللّٰه** پاک دربار ته د بندګانو اعمال وړاندې کولے شي او انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام او د وفات شوو مور پلار مخې ته د جُمعې په ورځ د اِنسان اعمال پیش کیږي- نبي چې کله د خپل اُمتي او مور پلار چې کله د خپل اولاد نیکئ ویني نو د هغوئي مخونه د خوشحالئ نه پړقیږي- خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے د **اللّٰه** بندګانو! د **اللّٰه**

پاک نه ویریږئ! خپلو وفات شوو مور او پلار ته پهٔ خپلو ګناهونو تکلیف مهٔ رسوئ! (1)

اللّٰه! اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پهٔ دې حديث شريف باندې بيا بيا غور اوکړئ چې ځغه ځامن کوم چې ◈ نـمونځونه نهٔ کوي ◈ کوم چې روژې نهٔ نيسي ◈ نيک کارونه نهٔ کوي ◈ فلمونه ډرامې ګوري ◈ پهٔ بد نظرئ کښې اخته وي ◈ د سود پهٔ لين دين کښې مصروف اوسي ◈ پهٔ غيبتونو ◈ چغلو ◈ حسد ◈ دروغو وغيره ګناهونو کښې اخته وي- ياد ساتئ چې زمونږه دا اعمال زمونږ د مور او پلار مخې ته وړاندې کولے شي ، مور او پلار چې زمونږ ګناهونه ويني نو خفه کيږي- د خُدائے د پاره--!! خيال کوئ! اے ځغه ځامنو--!! څوک چې د مور او پلار پهٔ وفات باندې ښې ډيرې اوښکې توئيوي، د مور او پلار جدائي نشي برداشت کولے، د مور او پلار پهٔ ياد کښې ژړيږي، د خُدائے د پاره! غور اوکړئ! آه! پهٔ دُنيا کښې که د مور او پلار پهٔ پوره توګه حقونه نهٔ وي ادا کړے شوي، نو اوس خو کم از کم پهٔ قبر کښې خو هغوئي ته سکون ورسوئ، ښې ډيرې نيکئ کوئ، د ګناهونو نه بچ اوسئ، چې مونږ ښه ډير کوشش اوکړو، چې د هرې جُمعې پهٔ ورځ چې کله زمونږ مور او پلار ته زمونږ اعمال پيش شي نو پهٔ اعمال نامه کښې يوه ګناه هم موجود نهٔ وي--!!

اللّٰه پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د نمونځ او روژو فديه ادا کړئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د وفات شوو مور او پلار نور هم حقوق دي کوم چې په

---

1 ...جامع صغير، صفحه:199، حديث:3316۔

اولاد باندې لازم وي، د دې حقونو د تفصيلي معلوماتو د پاره د مکتبةُ الْمدینه رساله "**مرحوم والدین کے حقوق**" ولولئ! په آخر کښې يوه خبره بله هم عرض کول دي، بعضې وخت مور او پلار د دنيا نه لاړ شي نو د هغوئي په ذمه باندې نمونځونه او روژې پاتې وي، يعنې څه نمونځونه پاتې وي او څه روژې پاتې وي، دا د مرحوُمينو سره ډېره غوره نيکي ده چې مونږ د هغوئي د نمونځونو او روژو فديه ادا کړو۔ قابلِ اولاد له پکار دي چې دا نيکي ضرور وکړي، څه پته لګي! که چرته مور او پلار په هم دې سبب جنت ته د داخليدو نه ايسار کړے شوي وي، کيدے شي! چې مونږ د هغوئي فديه ادا کړو او د هغوئي بخښنه وشي۔ د نمونځ، روژې فديه څومره وي؟ څنګه ورکولے شي؟ د دې خپل تفصيل دے، په دار الافتاء اهلسنت کښې د مفتيانو کرامو سره رابطه وکړئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! تفصيلي معلومات به تر لاسه کړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نـمونځ ګزاره جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو د ذِهن موندلو، د اخلاقو او ادب زده کولو د پاره د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! په **12 ديني کارونو** کښې پوره برخه واخلئ! په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول** هم دي۔

**د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **سُنَّت دي۔** ◈ د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې د سحر د نـمونځ

د پاره تللو نو اودهٔ [خلق] به يــې راپاخول- (1) ◈ د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ هم دغه انداز وو (2) او ◈ د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ به هم پهٔ دې ښکلو ښکلو سُنَّتو باندې عمل کولو- (3)

◈ **تاسو هم دا سُنَّت اختيار کړئ!** د سحر د نــمونځ د پاره خلق راپاخوئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ډېر برکتونه به درنصيب شي ◈ چې نور راپاخوئ نو يځپله به درته هم د جَمعې سره د سحر د نــمونځ کولو سعادت درنصيب کيږي ◈ سحر سحر به مو د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب نصيب کيږي ❀ ستاسو پهٔ راپاخولو چې څومره خلق نــمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نــمونځونو ثواب به هغوئي ته هم ميلاويږي او اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! ستاسو پهٔ اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي- ◈ سحر وختي به درته د پيدل تللو موقع ميلاويږي نو صحت به مو هم ښه کيږي ◈ يوه اهمه فائده دا هم ده چې جومات ته به خلق ډېر راځي، د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې مونږ پهٔ يځنې کښې د سحر د نــمونځ د پاره راپاخول شروع کړل نو نــمونځ کوونکي دومره زيات شول چې د جومات پهٔ دالان کښې مو ورته شاميانې [يعنې تمبوان] ولګول- سُبۡحٰنَ اللّٰہ!

هيڅ ګرانه نه ده، د جَمعې د وخت نه 20، 25 منټه مخکښې راپاځئ! د سحر د نــمونځ د پاره خوهسې هم ځئ، اواز کوئ او ځئ! جومات ته به هم ورسئ او د **اللّٰہ** پاک پهٔ فضل سره به د نيکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم درنصيب شي- نيت وکړئ چې اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د سحر د نــمونځ د پاره به خلق راپاخووم- راځئ چې ستاسو د ترغيب د پاره تاسو ته يو مَدَني

---

[1]…ابو داؤد، صفحه:208، حديث:1264-
[2]…مشكاة المصابيح، جلد:1، صفحه:244، حديث:1240 ماخوذاً-
[3]…تاريخ الخلفاء، صفحه:112 ماخوذاً-

سپرلے بیان کړم۔

## د فیضانِ مدینه د پاره زمکه میلاؤ شوه

د یو اِسلامي ورور بیان دے چې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلې سره مونږ یو ښار ته لاړو، د سحر د اذان نه پس مونږه د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو د پاره تللو چې ناڅاپه د یو کور نه یو ماړرن ځوان هم زمونږ سره شامل شو او هغهٔ د سحر نـمونځ پهٔ جومات کښې د جَمعې سره ادا کړو۔ وروستو د هُغه ځوان پلار د مَدَني قافلې والؤ سره د ملاقات د پاره راغلو۔ هغه ډیر مالداره کَس وو۔ هغهٔ ووئیل چې د سحر د نـمونځ د پاره د راپاڅولو پهٔ برکت زما نافرمانه ماډرن بے نـمانځه ځوي پینځه وخته نـمونځ گزاره شوے دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هُغه ماډرن ځوان پلار متاثره شو او پهٔ هُغه ښار کښې یـې د مَدَني مرکز فیضانِ مدینه د پاره زمکه ورکړه۔

| | |
|---|---|
| ترا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول |
| یقیناً مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نعت کولیکشن (Naat Collection) موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجي دور دے۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) پهٔ ذریعه هم عِلم دِین عام کوي۔ دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې: ***Naat Collection*** (نعت کولیکشن) دے۔ ◈ پهٔ دې ایپ کښې د اعلیٰ حضرت، مولانا حامد رضا خان، مفتيِ اعظم هند، مولانا

حسن رضا خان، مفتی نعیم الدِّین مرادآبادی، مولانا جمیل رضوي، مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم او د امیر اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه کلامونه شامل کړے شوي دي ◈ پهٔ هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او ردیف پهٔ ترتیب سره کتلے شئ- د سرچ بار پهٔ ذریعه د خپلې خوښې کلام پهٔ آسانئ سره لټولے شئ ◈ مختلف کلامونه پهٔ آډیو/ویډیو کښې اوریدے او فري ډاؤن لوډ کولے هم شئ ◈ د خپلې خوښې پهٔ کلام نخښه لګولے شئ او بیا بیا یې اوریدے شئ ◈ تاسو د خپلې خوښې کلام پهٔ **مائي کلیکشن** ***My Collection*** فیچر کښې محفوظ کولے شئ- کلام یا شعر کاپي کولے شئ او پهٔ واټس ایپ، فیس بک، ټویټر وغیره باندې یې شیئر کولے هم شئ- دا ایپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ-

## د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژو ترغیب

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د **شوال شریف** میاشت جاري ده- خوش قِسمته مسلمانان پهٔ دې میاشت کښې د وړوکي اختر نه پس د شپږو روژونو نیولو سعادت حاصلوي- راځئ چې د دې روژو فضیلتونه واورو د پاره د دې چې زمونږ د دې روژو د نیولو او د دې د برکتونو حاصلو ذِهن جوړ شي، نو ◈ **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** چا چې د رمضان روژې ونیولې، بیا یې 6 ورځې پهٔ شوال کښې روژې ونیولې نو د ګناهونو نه داسې ووتلو لکه چې هم نن د مور د خیټې نه پیدا شوے وي- (1) ◈ چا چې د رمضان روژې ونیولې بیا یې د دې نه پس د شوال شپږ روژې ونیولې- نو داسې ده لکه چې ټول عمر یې روژه ونیوله- (2) ◈ خَلیلِ مِلَّت مفتي محمد خلیل خان برکاتي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: دا روژې که

---

[1]... مجمع الزوائد، کتاب الصیام، باب فیمن صام ...الخ، جلد:3، صفحه:322، حدیث:5102۔

[2]... مسلم، کتاب الصیام، باب استحباب صوم...الخ، صفحه:424، حدیث: 1164۔

د اختر نه پس پرله پسې ونيولے شي نو بيا پکښې هم څۀ باک نشته او بهتره دا ده چې پۀ هره هفته کښې دوه روژې او د اختر پۀ دويمه ورځ يوه روژه ونيسي او که پۀ ټوله مياشت کښې يــې ونيسي نو نور هم مناسب معلوميږي- (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې خالي پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چينل باندې د ماسخوتن د نــمونځ نه پس اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د ډير عمر موندلو نُسخه رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئ دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ◈ پۀ قرآن، حديث، د تصوف عقيدو او فقه کښې د مهارت لرونکې د څوارلسمې صدۍ د بے مثاله عالِمِ دِين اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سيرت پۀ مختلفو اړخونو ليکلے شوے کتاب فيضانِ اِمامِ اہلِ سنت- دا کتاب د مکــتبة الــمدينه د يوې څانګې نه پۀ 415 روپے پۀ بيعه

[1] ... سنی بہشتی زیور ، صفحہ:347۔

واخلئ-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی كَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جَنَّت کښې زما سره وي- [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د رانجو لګولو سنت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: "په ټولو رانجو کښې بهتر رانجۀ اِثمد دي چې دا نظر روښانه کوي او بانه رازرغونوي-[2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د کاڼي رانجۀ استعمالولو کښې څه باک [يعنې حرج] نشته او تور رانجۀ يا ګاجَل د زينت په نيت (يعنې د ښايست په نيت) نارينه د پاره لګول مکروه دي او که زينت [يعنې ښائست حاصلول] مقصد نۀ وي نو کراهت نشته، رانجۀ د شپې د اوده کيدو په وخت استعمالول سُنَّت دي- ۞ د رانجو استعمالولو د 3 منقولو طريقو خلاصه وراندې کيږي: (1): کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلائيان (2):کله په ښئ سترګه کښې 3 سلائيان او په ګڅه سترګه کښې 2 سلائيان (3): نو کله

---

1... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497۔

په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بيا په آخر کښې يو سلائي په رانجو کښې ولړئ او هغه وار په وار په دواړو سترګو کښې ولګوئ، په داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په درې واړو [سنتو طريقو] باندې عمل کيږي- اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د تکريم به چې خومره کارونه هُم وو هغه به زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي طرف نه شروع کول، ځکه اول په ښئ سترګه کښې رانجهٔ لګوئ بيا په ګڅه کښې-[1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں

## مُعَانَقه کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** د چا چې خوک ورور وي هغه له پکار دي چې د خپل ورور سره مُعَانَقه اوکړي- [2]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** غاړې ميلاوهلو ته مُعَانَقه وئيلے شي او مُعَانَقه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي- ◈ پهٔ **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح** کښې دي چې: د خوشحالئ پهٔ موقع چا ته ورغاړه وتل سُنَّت عمل دے [3] خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څو څو کرته پهٔ صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم باندې شفقت کولو او هغوئي ته به يې د مُعَانَقې شرف عطا کولو- مثلاً ◈ د خيبر پهٔ موقع باندې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت جعفر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلې سينې مبارکې ته راجُخت کړو او پهٔ تندي باندې يې ښکل هم کړو- [4] ◈ يو ځل رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

---

1...550سنتیں اور آداب، صفحہ:38۔

2...كَنْزُ الْعُمَّال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جز:13، صفحه:26، حديث:36235۔

3...مرآة المناجيح، جلد:6، صفحه:359۔

4...ابو داؤد، کتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:813، حديث:5220۔

وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت ابو ذَر غفاري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه راوبللو، کله چې هغوئي حاضر شول نو پۀ شفقت سره يـې هغوئي سينې ته راجُخت کړو۔ (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعې او زيارت مينځنئ شپه کښې) دا دُرُود شريف پۀ پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د سرکارِ

[1] ... ابو داؤد، كتاب:الادب، باب: قبلة ما بين العينين، صفحه:812، حديث:5214 خلاصةً۔

[2] ... وسائل بخشش، صفحه:669۔

مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كنبې د داخليدو وخت كنبې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډكو لاسونو باندې كوزوي.[1]

راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِکْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لَوَلي كه ولاړ وو نو د كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوک چې دا دُرُودِ پاک لَوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې برسيره كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم حیران شول چې دا څوک ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2 ... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3 ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵